# الشمس

مکی سورة دی ۱۵ آیتونه لری

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلشَّمۡسِ وَضُحَىٰهَا ١

(قسم) په لمر او د هغه په ځلانده روښنایی.

وَٱلۡقَمَرِ إِذَا تَلَىٰهَا ٢

او( قسم) په سپوږمۍ چې( له لمر نه وروسته) راوخیژی.

وَٱلنَّهَارِ إِذَا جَلَّىٰهَا ٣

او( قسم) په ورځ چې د لمر ځیره راڅرګنده کړی.

وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَغۡشَىٰهَا ٤

او( قسم) په شپه چې( د لمر مخ) پټ کړی.

وَٱلسَّمَآءِ وَمَا بَنَىٰهَا ٥

او (قسم) په آسمان او د هغه په جوړوونکی( مقتدر ذات الله تعالی).

وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا طَحَىٰهَا ٦

او (قسم) په ځمکه او د هغې په هواروونکی( پیاوړی ذات الله تعالی چې پخپل ځانګړی حکمت سره یې ځمکه غوړولې او د مخلوق د هستوګنې وړ ګرځولې ده).

وَنَفۡسٖ وَمَا سَوَّىٰهَا ٧

او( قسم) په نفس او د هغه( د ظاهری احسن شکل او معنوی استعدادونو) په برابروونکی( حکیم ذات الله تعالی).

فَأَلۡهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقۡوَىٰهَا ٨

( چې لومړی یې سلیم عقل او د هغه په وسیله د ښو او بدو د تمیز او تفکیک قوه ورکړه، او بیا یې د انبیاو او رسولانو په وعظ او تبلیغ) د شر او خیر دواړه لارې ورپه نښه کړې.

قَدۡ أَفۡلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ﴿٩﴾

( په دغو تولو واقعیتونو قسم) چې بې له شکه بریمن او نیکمرغه دی، هغه، چې خپل نفس یې پاک وساته.

وَقَدۡ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا ﴿١٠﴾

او( له الهی رحمت نه) ناامیده او نامراده شو هغه، چې خپل نفس یې په حرامو او ګناهونو ملوث کړ.

كَذَّبَتۡ ثَمُودُ بِطَغۡوَىٰهَآ ﴿١١﴾

ثمودیانو په سرکشۍ او نافرمانۍ سره( خپل پیغمبر) دروغجن وګڼه.

إِذِ ٱنۢبَعَثَ أَشۡقَىٰهَا ﴿١٢﴾

کله چې یې بدبخت ورانکاری راپورته شو.

فَقَالَ لَهُمۡ رَسُولُ ٱللَّهِ نَاقَةَ ٱللَّهِ وَسُقۡيَٰهَا ﴿١٣﴾

نو د الله تعالی رسول( صالح علیه السلام) ورته وویل:( خبردار!) د الله تعالی اوښه ( چې زما د نبوت د اثبات معجزه ده)او د هغې د څښاک اوبه( پخپل حال پرېږدئ او لاس مه وروړئ، که نه په الهی عذاب به اخته شئ).

فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمۡدَمَ عَلَيۡهِمۡ رَبُّهُم بِذَنۢبِهِمۡ فَسَوَّىٰهَا ﴿١٤﴾

خو هغوی د پیغمبر خبره رد کړه او اوښه یې( په بې رحمۍ سره) ووژله، چې رب یې هم ورباندې د دغه لوی جرم له امله سخت عذاب نازل، او ټول یې له خاورو سره خاورې کړل.

وَلَا يَخَافُ عُقۡبَٰهَا ﴿١٥﴾

او( الله تعالی) د دغه مجازات له عواقبو هیڅ پروا نه کوی.

« تمت سورة الشمس بفضل الله و ورحمته».

===================